السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# په دريو وختونو کې به رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ له لمانځه څخه منع کولو او لدې چې خپل مړي پکې ښخ کړو

له عقبة بن عامر الجهني رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: په دريو وختونو کې به رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ له لمانځه څخه منع کولو او لدې چې خپل مړي پکې ښخ کړو: کله چې لمر ځرک وهي، تر دې چې ښه راپورته شي، کله چې ټکنده غرمه شي تر دې چې لمر زوال وکړي، او کله چې لمر ډوبېدو ته نږدې شي تر دې چې ډوب شي.

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د ورځې پر مهال په دريو وختونو کې له نفلي لمونځونو څخه منع فرمايلې ده او لدې چې مړي په کې ښخ کړل شي. لومړی وخت: کله چې لمر ځرک وهي، چې دا يې د راختو لومړ شېبه ده، تر دې چې د يوې نيزې په اندازه پورته شي، چې نږدې د يو پاو وخت په کچه اندازه کېږي. او دويم: کله چې لمر د اسمان منځ ته شي، نو د ختيځ او لويديځ لور ته هېڅ سيورى نه لري، تر دې چې د آسمان له منځ نه زوال وکړي او د ختيځ لور ته سيورى ښکاره شي، نو د ماسپښين د لمانځه لومړى وخت پېل شي، او دا لنډ وخت دى چې نږدې پنځه دقيقې کېږي. او دريم: کله چې لمر مخ په ډوبېدو شي، تر دې چې ډوب شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10604

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee